پوهندوی آصف بهاند
۲۰۲۴/۰۴/۲۰

# «ډېوې، ډېوې مابنام»

## یو بنه نوښت، یوه ښه لار

## پنځمه او وروستۍ برخه




**د «ډېوې، ډیوې ماښام» مسؤلینو او چلونکو ته ځووړاندیزونه:**

ـ ډېر مثبت پروګرام مو پیل کړی دی، وېغځوئ،

ـ د هنري ادبیاتو د نورو برخو تخلیقونکي (هنري نثر) هم یاد او ونازوئ،

ـ د څېړونکو او ښونکو یادونه هم مه هېروئ،

ـ د ډیوو په بلولو کې یوه یا دوې ورځې وقفه راولئ، ځینې کسان به یې دومره ژر تعقیب نه شي کړای،

ـ هرچا ته چې ډیوې بلوئ، که یې لنډه بیوګرافي هم خپره کړئ، ښه به وي،

ـ تاسو خپل ټول خپرېدونکي مواد په منظم ډول خوندي کړئ چې وروسته د کتابونو په بڼه خپاره شي،

ـ د «ډېوې، ډیوې ماښام» ډیوې دې د ټول افغانستان د شاعران لهپاره بلې شي او په یوې سیمې پورې دې و نهتړل شي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ــ له شک پرته د شعر هنر او شاعرانو په تشویق کي به ستاسو اوسنی هلي‌ځلي یو ځای ونیسي او د شاعرۍ بازار به نور هم تود شي؛ داسي نه شي چي ټول نوی نسل شاعرۍ ته مخه کړي او شاعرستان ورنه جوړ شي. نو که تاسو د علم او هنرونو د نورو برخو له پاره هم تشویقي ــ تبلیغاتي او عملي کار پیل کړئ، بده به نه وي ځکه چي ټولنه او خلک د شاعرانو ترڅنګ ډاکترانو، انجنیرانو، ښوونکو او د پوهي ــ فرهنګ د نورو برخو تحصیل کړو او متخصصینو ته هم اړتیا لري.

په پای کي د دي مقالي د ښه اختتام په نیت، به د کاروان هغه غزل راواخلم چي د «ډېوي، ډېوي ماښام» لەپاره یي لیکلی دی:

## غزل

**ډېوي ـ ډېوي ماښام دی، که ماښام ډېوي ـ ډېوي**
**سپوږمی ناسته د پوري غرهٔ پر بام ډېوي ـ ډېوي**

**پهٔ دي وطن بهٔ چرته راځي راج د ترووږمی**
**اغلي او ښاغلي مي د قام ډېوي ـ ډېوي**

**دا نن دي رونړوي یاران لهٔ ستورو سره شپه**
**سبا بهٔ وني ګوري د بادام ډېوي ـ ډېوي**

**دا ژني او دا پیغلي روهیلی د روهستان**
**کابل ډېوي ـ ډېوي دی او باګرام ډېوي ـ ډېوي**

**دي ستوري ماشومان ورته لهٔ نازه پهٔ نڅا**
**بهیر د غزلبولو ګام پهٔ ګام ډېوي ـ ډېوي**

**رندان مو د عرفان د میکدي د نور شراب**
**د زړونو پهٔ تاخونو کي پردي جام ډېوي ـ ډېوي**

**ډېوي ـ ډېوي ماښام کي لهٔ همیم سره شه مل**
**کاروانه ترې نه وابهٔ خلي الهام ډېوي ـ ډېوي**

پیرمحمد کاروان




پای

که مو غوښتل چي د لیکوال نوري لیکني له نظره تیري کړئ، دا ځای کلیک کړئ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ